# له فتحې وروسته د لوړو زده کړو وزارت د ۱۴۴۳هـ.ق
# کال لاسته راوړنې


نشر:

د اطلاعاتو، نشراتو او عامه اړیکو ریاست

www.mohe.gov.af

www.facebook.com/moheaf

چاپ:

محرم الحرام ۱۴۴۴ - کابل - افغانستان

ترتیب:

د اطلاعاتو او نشراتو امریت

چاپځای:

د اطلاعاتو، نشراتو او عامه اړیکو ریاست د مطبعې امریت

ګڼه:

۳۰۰ نسخې

بسم الله الرحمن الرحیم

**سریزه:**

د جمهوریت له سقوط او اسلامي امارت له حاکمیت وروسته د ا.ا.ا په پرله‌پسې هڅو او هدایاتو د افغانستان نورو ادارو تر څنګ، د لوړو زده کړو وزارت هم خپل کارونه په منظم ډول پیل او په تېر یوه کال کې یې ډېرې لاسته راوړنې درلودې.

د لوړو زده کړو وزارت د مشرتابه په هڅو او غوره مدیریت سره، له فتحې وروسته د وړي په ۱۵مه نېټه ټول خصوصي تحصیلي بنسټونه د محصلینو پر مخ پرانیستل شول، خو د دولتي تحصیلي بنسټونو درسونه د بودیجې د کمښت، منظم سیسټم نشتوالي او د اختلاط د مخنیوي په پار د درسي چاپېریال برابرولو له امله د سلواغې په ۱۳مه د ګرمسېرو او د کب په ۷مه د سړدسېرو ولایتونو درسونه پیل شول.

د لوړو زده کړو وزارت وتوانېد چې په تېر یوه کال کې د خپلو عادي چارو تر څنګ، د ماسټرۍ او دوکتورا په کچه «افغان نړیوال پوهنتون» ایجاد کړي. یاد پوهنتون د طب، انجنیرۍ، شرعیاتو او کرنې په برخو کې څلور پوهنځي لري، چې د ماسټر او دوکتورا په کچه به افغاني ټولنې ته علمي او تخصصي کادرونه وړاندې کوي.

همدارنګه لوړو زده کړو وزارت د دیني جامعاتو او تخصصاتو چارو لوی ریاست رامنځته کړ، چې له مخې به یې د دیني علماء کرامو اسناد څېړل او طی مراحل کېږي او د لوړو زده کړو وزارت له لوري به معیاري، د باور وړ او منظم اسناد ورکول کېږي.

لـوړو زده کـړو وزارت پـه تېـر یـوه کـال کـې د تحصـیلي نصـاب د سمون، پراختیـا او معیـاري کېـدو لپـاره کلسـترونه دایـر کـړل، تـر څـو تحصـیلي نصـاب قـوي او د ټـولنې اړتیـاوو تـه ځـواب ویـونکي واوسي.

همدارنګـه پـه لـوړو زده کـړو وزارت کـې د هېـواد ټولـو تحصـیلي بنسـټونو د اسـنادو طـی مراحـل کـول لـه ځنـډ او خنـډ پرتـه پـه عـادي ډول مـنظم جریـان لـري او د لـوړو زده کـړو وزارت مشـرتابه تـل هڅـه کـوي، چـې د ګـران هېـواد ځـوان نسـل لـه دینـي او افغـاني ارزښـتونو سره سم د تحصیل په ګاڼه سنباله کړي.

په درنښت

د اطلاعاتو، نشراتو او عامه اړیکو ریاست

# د لوړو زده کړو وزارت کلنۍ لاسته راوړنې

له فتحې وروسته د اسلامي امارت مشرانو او د لوړو زده کړو وزارت رهبرۍ له خوا مرکزي او ولايتي زونونو ته پلاوي واستول شول چې له ټولو تحصيلي بنسټونو څخه په سمه توګه د ساتنې او خونديتوب پلان جوړ او تطبيق کړي. الحمدلله د ترتيب شوي پلان له مخې ټاکل شوي پلاوي د مجاهدينو په مرسته وشو کولای چې له ټولو تحصيلي بنسټونو څخه ساتنه وکړي او د يادو بنسټونو ټول تجهيزات خوندي وساتي.

۱. د (۱۴۰۰) ه ش کال د زمري مياشتې په (۲۴) نېټه د مرکز (کابل) له فتحې سره سم د ا.ا.ا لوړو زده کړو اداري سيمه ايزو مسؤلينو د وزارت او تحصيلي بنسټونو ودانيو ته حاضر شول او د زمري په (۲۵) نېټه يې په يادو بنسټونو د چارو پيلولو لپاره اړين اقدامات تر سره کړل، چې په پايله کې په دې بريالي شول چې د وږي په (۶) نېټه ټولې اداري چارې په برياليتوب سره پيل کړي.
۲. د (۱۴۰۰) ه ش کال د وږي مياشتې په (۱۵) نېټه په مرکز او ولايتونو کې د خصوصي تحصيلي بنسټونو تدريسي چارې پيل شوې چې د دوه مياشتو په جريان کې نيمګړي سمسترونه بشپړ او د نويو سمسترونو لپاره د پام وړ شمېر



نــوي محصــلين جـــذب كـــړل، الحمـــد لله اوس مهـال ټـول دولتـي او خصوصـــــي تحصـــــيلي بنســـتونه پـــه معيــاري توګــه فعــال دي او هــيڅ داســې كــوم تحصــيلي بنســټ شــتون نــه لــري چــې تدريســي چــارې يــې د كــومې ســتونزې لــه كبله پر ټپه ولاړې وي.

٣. د (١۴٠٠) ه ش كــال د وږي پــه مياشـــت كــې لـــه خصوصـــي تحصـيلي بنسـتونو سـره سـم د دولتـي تحصـيلي بنسـتونو اداري چـارې هـم پيـل شـوې خـو تدريسـي چـارې يـې د بـوديجې نشـتون لـه كبلـه د لنـډې مـودې لپـاره وځنډېـدې چـې د ا.ا.ا د مشـرانو او د لــوړو زده كــړو وزارت د رهبــرۍ نــه ســتړي كيــدونكو هڅــو پــه پايلـه كـې د دلـوې مياشـتې پـه (١٣) نېټـه د هېـواد ګرمـو سـيمو كـې او همدارنګـه د كـب مياشـتې پـه (٧) نېټـه د هېـواد پـه سـړو سـيمو كـې تدريسـي چـارې پيـل شـوې، چـې د دوه مياشـتو پـه تــرڅ كــې نيمګــړي سمســترونه بشــپړ شــول د (١۴٠٠) ه ش كــال د كـانكور آزمـوينې پـايلې اعـلان شـوې او د نويـو محصـلينو د نـوم ليكنـې پروسـه پـه بريـاليتوب سـره بشـپړه شـوه. اوس مهـال د

دولتـــي تحصـــيلي بنســـتونو تدريســـي چـــارې د اړونـــدو تقنينـــي سندونو پر بنسټ په نورماله توګه دوام لري.

۴. لـــه فتحـــې وروســـته د طبـــي برخـــې اړونـــد د (Exit) آزموينـــه واخيســـتل شـــوه، د لـــوړو زده کـــړو وزارت اړونـــدو روغتونونـــو کـــې د اکمـــال تخصـــص آزموينـــه هـــم واخيســـتل شـــوه چـــې تقريبـــاً (۱۰۰) ډاکټـــران يـــې د اکمـــال تخصـــص پـــه برخـــه کـــې پـــه رســـمي رضاکارانه (ولنټيئر) بستونو کې جذب کړل.

۵. اوســـمهال د لـــوړو زده کـــړو وزارت ټـــولې چـــارې پـــه نورمالـــه توګـــه دوام لـــري، د دولتـــــي او خصوصـــــي تحصـــــيلي بنســـــتونو د فارغـــانو تحصـــيلي ســـندونه تائيـــد شـــول، د بيـــرون مـــرزي تحصـــيلي ســـندونو ارزيـــابي او معادلـــت اړونـــد پړاوونـــه بشـــپړ او همدارنګـــه د پوهنتونونـــو د کيفيـــت ارزونـــې، تدريســـي چـــارو څارنـــه، د علمـــي کـــادرونو او اداري کـــارکوونکو جـــذب، د علمـــي څېړنيـــز او ترفيعـــاتو، د بهرنيـــو بورســـونوچارې ، د مـــالي او تـــدارکاتي فعاليتونـــه او همدارنګـــه دې تـــه ورتـــه نـــورې ټـــولې چارې په عادي او چټک ډول سره جريان لري.

۶. اوس مهـــال پـــه ټولـــو دولتـــي او خصوصـــي تحصـــيلي بنســـتونو کـــې د اخـــتلاط مخنيـــوى شـــوى دى چـــې د اړونـــدو تقنينـــي ســـندونو ســـره ســـم، ځينـــو تحصـــيلي بنســـتونو کـــې د ښـــځينه او نارينـــه محصـــلينو ټـــولګي جـــلا شـــوي، پـــه ځينـــو تحصـــيلي بنســـتونو کـــې د تـــدريس وختونـــه او پـــه ځينـــو نـــورو تحصـــيلي بنســـتونو کـــې د

اونـــۍ پـــه تـــرڅ کـــې د تـــدریس ورځـــې مشـــخص شـــوي دي. الحمدلله دا لړۍ تر دې دمه په بریالیتوب سره دوام لري.

۷. د لـــوړو زده کـــړو وزارت د څـــارنې او ارزونـــې پـــه تـــرڅ کـــې د خیـالي او بـې اساسـه محصـلینو د تحصـیلي سـندونو د جعـل او تـذویر، اداري بیوروکراسـي او وظیفـوي غفلـت د مخنیـوي پـه موخـه، د پـام وړ ګټـور ګامونـه واخیسـتل او پـه دې برخـه کـې یـې لازم تصمیمونه او تدابیر ونیول.



۸. لـه فتحـې وروسـته د لـــوړو زده کـــړو وزارت رهبـــرۍ د بېلابېلـو تحصـیلي بنسـټونو اسـتادانو تـه بلنـه ورکـړه او د مختلفـو مسـلکي کلسـترونو پـه دایرولـو سـره د وړانـدیز شـویو طرحـو، اسـلامي، ملـي ارزښـتونو او نړیوالـو عصـري تحصـیلي معیـارونو پـه پـام کـې نیولـو سـره یـې پـه نصـاب کـې داسـې مضـامین، موضـوعات او مـوارد اضـافه کـړل چـې د هېـواد اوسـني او راتلـونکي ضـرورتونه پـوره کـړای شـي او هغـه برخـې ترینـه لـرې شـوې چـې د ځـوان نسـل پـه فکرونـو یـې منفـي اغیـزه درلـوده، بنـاءً همـدې سـتونزې تـه پـه کتـو سـره د ټولـو تحصـیلي دولتـي



او خصوصـــــــي بنســـتونو پوهنځيــو او ډيپـــــارټمنتونو کـــې د اســـلامي ثقافـــت مضـــمون حتمـــي او دايمـــي شو.

۹. د هېـــواد بشـــپړې فتحـــې وروســـته د ا.ا.ا د سرپرســـت مشـــرتابه لارښــوونې ســره ســم، د نــورو دولتــي ادارو تــر څنــګ د لــوړو زده کــړو وزارت هــم د بشــري ســرچينو پــه چوکــاټ کــې د يــوې باصــلاحيته تخنيکــي او مســلکي کمېټــې پــه ترتيبولــو ســره تشــکيلاتي جوړښــت تعــديل او نــوی کــړ، چــې پــه تعــديل شــوي تشــکيل کــې ځينــې بســتونه لــرې، ځينــې تعــديل، ځينــې انتقــال او ځينې نور هم د ضرورت پر بنسټ ايجاد شول.

۱۰. د دينـــي جامعـــاتو څخـــه د عـــالمي دورې او تخصصـــاتو د فارغـــانو د ســـندونو ارزونـــې، معادلـــت او د قـــانوني تحصـــيلي ســـندونو د ورکـــړې پـــه موخـــه لـــوړو زده کـــړو وزارت پـــه خپـــل چوکــاټ کــې د ديني جامعــاتو او تخصصــاتو چــارو لــوی رياســت رامنځتــه کــړ تــر څــو د هېــواد د هــرې برخــې علمــا او متخصصــين لــه خپلــو زده کــړو څخــه د شــته ســندونو پــر بنســت معيــاري او منــل شــوي ســندونه تــر لاســه کــړي. چــې يــاد رياســت پــه خپــل تشکيل کې درې نور رياستونه هم لري.

۱۱. د عالیقـــدر امیرالمـــومنین د ۱۴۴۳/۷/۱۲ نېټـــې (۲۵) ګڼـــه لیـــك فرمـــان پـــر بنســـټ د دینـــي جامعـــاتو او تخصصـــاتو چـــارو لـــوی ریاســـت ټـــولې چـــارې د لـــوړو زده کـــړو وزارت پـــورې مربـــوط شـــوې چـــې تـــر اوســـه پـــورې پـــه ســـمه توګـــه مـــخ پـــر وړانـــدې روانـــې دي.

۱۲. د لـــوړو زده کـــړو وزارت پـــه تشـــکیل کـــې د کارمنـــدانو خـــدماتي کـــارکوونکو او د تحصـــیلي بنســـټونو کارمنـــدانو، خـــدماتي کـــارکوونکو او محصـــلینو د دینـــي او اداري چـــارو د تنظـــیم او څـــارنې پـــه موخـــه د دعـــوت او ارشـــاد ریاســـت رامنځتـــه کـــړ چـــې پـــر هڅـــو یـــې تـــر دې دمـــه د ټولـــو یـــادو وګـــړو پـــه صـــورت او ســـیرت کـــې د پام وړ مثبت بدلونونه رامنځته شوي دي.

۱۳. د لـــوړو زده کـــړو وزارت د دې لپـــاره چـــې یـــو پرمختللـــی او پـــه ټولـــو علمـــي او نړیوالـــو معیـــارونو ســـمبال نصـــاب ولـــري، پـــه نـــوي تشـــکیل کـــې یـــې د نصـــاب پـــه نامـــه یـــو نـــوی ریاســـت ایجـــاد کـــړ چـــې ګـــڼ شـــمېر مســـلکي بســـتونه پکـــې شـــتون لـــري، د یـــاد ریاســـت تـــر چتـــر لانـــدې د تحصـــیلي نصـــاب عـــالي کمیســـیون هـــم فعالیـــت کـــوي چـــې د معتبـــرو پوهنتونونـــو اســـتادانو څخـــه جـــوړ شـــوی او د نصاب جوړولو د چارو د څارنې او کنټرول دنده پرغاړه لري.

۱۴. د لـــوړو زده کـــړو وزارت لـــه فتحـــې مخکـــې (۱۴۷۳۶) تشـــکیل درلـــوده چـــې کـــادري، اداري او خـــدماتي بســـتونه پـــه کـــې شـــامل وو. لـــه تعـــدیل او اصـــلاح وروســـته نومـــوړی تشـــکیل (۱۶۰۲۷) تـــه لـــوړ شـــوی دی چـــې د وزارت پـــه مرکـــز کـــې د زیـــات شـــویو

تشکیلاتو سربېره په مرکز کې د افغان نړیوال پوهنتون، دحضرت عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) جامعه او په کندهار کې د حضرت ابراهیم نخعي (رحمة الله علیه) جامعه پکې شامل دي.

۱۵. له فتحې وروسته د لوړو زده کړو وزارت ډېر کادري او اداري بستونه د ځینو لاملونو له کبله خالي وو چې د لوړو زده کړو وزارت د ښه مدیریت او هڅو په پایله کې یاد خالي بستونه د ځانګړیو علمي معیارونو، استعدادونو، مسلکي او تخنیکي تجربو په پام کې نیولو سره له هر ډول قومي، سمتي او ژبني تبعیض پرته ټولو هېواد والو ته د آزاد او شفاف رقابت له لارې د غړیتوب ترلاسه کولو لپاره زمینه چمتو شوه او په شرایطو برابر کادري او اداري وګړي پکې جذب شول.

۱۶. د لوړو وزارت په تشکیل کې د افغان نړیوال پوهنتون رامنځته شو.

۱۷. د اسلامي ثقافت په مضمون کې د دوه کریدیته اضافه کېدو له کبله د لوړو زده کړو وزارت له غوښتنې سره سم د اسلامي ثقافت په برخه کې استادانو لپاره د ا.ا.ا د مشرتابه له خوا (۶۵۸) بستونه منظور شول. چې د دولتي پوهنتونونو او تحصیلي مؤسسو د اړتیاوو پر بنسټ وویشل شو.

۱۸. له فتحې وروسته سربېره پر دې چې ټول بانکونه د بودیجې له کمښت سره مخ وو، د لوړو زده کړو وزارت موجوده رهبرۍ دې برخې ته خاص پاملرنه وکړه او په لنډ وخت کې د مالي

سیستم په رغولو سره یې وکولای شو چې د لوړو زده کړو وزارت د ټولو مرکزي ریاستونو کارکوونکو او د تحصیلي دولتي بنسټونو د استادانو او اداري کارکوونو معاشونه او امتیازات په سمه توګه اجراء کړي او په اداري کارونو کې د هر ډول خنډ څخه مخنیوی شوی.

۱۹. د لوړو زده کړو وزارت د ملکي لوړو زده کړو قانون او څه د پاڅه لس نافذ العمل مقررې او په لسګونو لایحې، کړنلارې (طرزالعملونه ) او لارښودونه ترتیب شوي دي، چې په دې برخه کې د هېواد مسلکي، تخنیکي او تجربه لرونکو استادانو په ګډون سره بېلابیل کلسترونه دایر شول او د یادو استادانو د وړاندیزونو او غوښتنو په پام کې نیولو سره د تعدیل پروسه نهایي شوه او یاد تعدیل شوی قانون د منظورۍ په موخه اړوندو مقاماتو ته وړاندې شو.

۲۰. له فتحې مخکې په مجموعي توګه څه د پاسه څلور لکه (۴۰۰۰۰۰) تنه محصلین په (۳۹) دولتي او (۱۴۳) خصوصیتحصیلي بنسټونو کې په تحصیل بوخت وو. چې له فتحې وروسته (۴۰) دولتي او (۱۴۳) خصوصي تحصیلي بنسټونوکې څلور لکه لس زره (۴۱۰۰۰۰) محصلین په تحصیل بوخت دي. او سربېره پر دې چې ټول پخواني پوهنځي فعال دي یوازې په دولتي تحصیلي بنسټونو کې (۲۲) پوهنځي، (۶۰) ډیپارټمنټونه او (۱۵) د بېلابېلو ماسټرۍ برنامې ایجاد شوي دي، چې په ځینو کې محصلین

جذب شوي او په ځینې نورو کې به د راتلونکي کانکور له لارې محصلین جذب شي.

۲۱. د وزارت اړونده فعالیتونو کې د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه (۱۳) احکام (۲۸) فرمانونه اړوندو ادارو ته تکثیر او تعقیب شول چې د دې فعالیت په ترځ کې ټولې چارې تنظیم او ترتیب شوې.

۲۲. له نورو ادارو او دویمي واحدونو څخه د لوړو زده کړو وزارت ته د مراجعینو دري دیرش زره شپږ سوه نهه څلویښت (۳۳۶۴۹) سندونه رارسېدلي دي چې په ټاکلي وخت کې اجراء او مراجعینو ته سپارل شوي دي.

۲۳. د وزارت اړونده فعالیتونو کې د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه پنځه زره نهه سوه دوه پنځوس (**۵۹۵۲**) پوستي مراسلات اړوندو ادارو ته تکثیر او تعقیب شول چې د دې فعالیت په ترځ کې ټولې چارې تنظیم او ترتیب شوې.

۲۴. د دعوت او ارشاد ریاست له خوا د لوړو زده کړو دولتي او خصوصي تحصیلي بنسټونو محصلینو او کارمندانو ته د نبوي سیرت سره سم د ځان برابرولو، حجاب مراعتولو، اختلاط او تعصب له منځه وړلو او د افراط او تفریط څخه د ځان ساتلو په موخه د اسلامی احکامو له مخې اړین موضوعات وړاندې شول.

۲۵. د پوهنتونونو په لیلیو کې د (۲) دیني مجلسونو په دایرولو سره محصلینو او کارمندانو ته د نبوي سیرت سره سم د

ځـان برابرولـو، حجـاب مراعتولـو، اخـتلاط او تعصـب لـه منځـه وړلـو او د افـراط او تفـريط څخـه د ځـان سـاتلو پـه موخـه د اسلامی احکامو له مخې اړين موضوعات وړاندې شول.

۲۶. د لـوړو زده کـړو وزارت د مرکـزي رياسـتونو ټولـو کـارکوونکو ته د ديني مسايلو په اړه مهم موضوعات وړاندې شول.

۲۷. د علـي آبـاد او ميونـد تدريسـي روغتونونـو ټولـو کـارکوونکو او مراجعينـو تـه د پيغمبر(صـلی الله عليـه وسـلم) لـه سـيرت سـره سـم د حجـاب مراعتولـو، لـه مراجعينـو سـره د ښـه چلنـد او لـه تعصـب څخـه د ځـان سـاتلو پـه اړه مهـم موضـوعات وړانـدې شول.

۲۸. د وزارت پـه کچـه (۱۸۳۳ ) مرسـتيال او درسـي کتابونـه، (۱۲) پـلان شـوې اونييـز پـاڼې، (۳۰۰۰) مختلـف اداري کتابونـه، (۷۶۰۰۰) فـورمې او مکتوبونـه، (۱۵۰۰۰) دوسـيې، (۱۰۰۰) بروشـرونه او (۳۰۰) تقنينـي سـندونه چـاپ او تکثيرشوي دي.

۲۹. (۱۰۹) تنـه عـالی رتبـه مقامات،معـاونين، رئيسـان او علمـي کادرونـه بهرنيـو هېوادونـو تـه پـه علمـي او تحقيقـي ورکشـاپونو او سـيمينارونو کـې د ګـډون پـه موخـه سـفرکړی دی او همدارنګـه سرپرسـت وزيـر صـاحب پـه تحصـيلي برخـه کـې د ځينـو سـتونزو رفـع کولـو پـه پـار د ترکيـې هېـواد تـه سفر وکـړ او چې د پام وړ لاسته راوړنې يې درلودې.

۳۰. د آزاد بورسونو له لارې دوه تنه ښځینه نوماندانې همدارنګه ۲۱ تنه نارینه نوماندان د لیسانس برنامې لپاره د ( هند، ترکیه او قزاقستان) هېوادونو او همدارنګه د آزاد بورسونو له لارې (۳۳) تنه نارینه نوماندان د لیسانس برنامې لپاره د ( هندوستان، عربستان سعودي او قزاقستان) هېوادونو ته د لوړو زده کړو تر لاسه کولو لپاره معرفي شول.

۳۱. د مالیزیا په هېواد کې د (۲۴) تنه استادانو تحصیلي مصرف چې د ماسترۍ او دوکتورا په برنامو کې په تحصیل بوخت دي، د دولت له بودیجې څخه اجراء شو.

۳۲. د ( هندوستان، ایران، جاپان، چین، کاناډا، امریکا او عربستان سعودي) په شمول له (۲۴) بهرنیو هېوادونو څخه د ماسترۍ په برخه کې ( ۲۲۴) بورسونه او د دوکتورا په برخه کې (۱۶۹) بورسونه چې ټولټال (۳۹۳) بورسونه دي تر لاسه شوي او په شرایطو برابر وګړي ورته استول شوي دي.

۳۳. د مالیزیا او هندوستان محصلینو (۱۲۸) راپورونه او همدارنګه د دولتي ځانګو د (۴۳۴) تنو استادانو او کارکوونکو راپورونه چې له اړوندو هېوادونو څخه رارسېدلي وو، اړوند پړاوونه یې په بشپړه توګه تر سره شول.

۳۴. د دولتي ځانګو د (۴۳۴) تنو استادانو او کارکوونکو راپورونه چې له اړوندو هېوادونو څخه رارسېدلي وو اړوند پړاوونه یې په بشپړه توګه تر سره شول.

۳۵. د دولتـــي لـــوړو زده کـــړو تحصـــيلي بنســـتونو اړونـــد (۵۶۰) علمي کادرونو بېلابېلو علمي رتبو ته ترفيع وکړه.

۳۶. د دولتـي لـوړو زده کـړو تحصـيلي بنسـتونو اړونـد د ماسـترۍ او دوکتـورا تيـزس لـه مخـې د (۱۱۷) تنـه علمـي کـادرونو علمـي رتبه تثبيت شوه.

۳۷. د دولتـــي لـــوړو زده کـــړو تحصـــيلي بنســـتونو اړونـــد (۵۲) تنـــه علمـــي کـــادرونو د ماســـترۍ او دوکتـــورا تيـــزس لـــه مخـــې علمـــي رتبه تر لاسه کړه.

۳۸. د لـوړو زده کـړو دولتـي او خصوصـي تحصـيلي بنسـتونو اړونـد د (۳۹۷) کـادري غـړو د ګومـارنې سـندونو اړونـد پـړاوونـه بشـپړ شول.

۳۹. د دولتـــي تحصـــيلي بنســـتونو ډيپـــارټمنونو کـــې د (۲۰۲) تنـــو آمرينو د ګومارنې اړوند پړاوونه تر سره شول.

۴۰. د (۳۰) اکاډميـــک بســـتونو د دوســـيو اړونـــد پړاوونـــه تـــر ســـره شول.

۴۱. د دولتـــي تحصـــيلي بنســـتونو د تبـــديلۍ اړونـــد (۵۰) دوســـيې بشپړې شوې.

۴۲. د لـــوړو زده کـــړو وزارت د (۲۰) مرکـــزي رياســـتونو تشـــکيلاتې جوړښـت د اړونـده کمېټـې لـه خـوا لـه بيـاکتلو وروسـته نهـايي او اړوندو رياستونو ته تکثير شو.

۴۳. پـــه دويمـــي مرکـــزي او ولايتـــي واحـــدونو کـــې د (۳۱۷) تنـــو کـــارکوونکو د ګومـــارنې لـــړۍ د رياســـتونو پـــه وړانـــديز او د

وزارت سرپرست مقام د هدایت پر بنسټ ترسره او نهایي شوه.

۴۴. د (۳۲) پروژو تدارکاتي مواردو اړوند تفاهم لیکونه لاسلیك شو.

۴۵. له فتحې وروسته د پلان، پالیسۍ او تقنین ریاست له خوا د نظر غوښتنې فورمو پر بنسټ له دویمي تحصیلي بنسټونو څخه د لوړو زده کړو ملکي قانون او (۱۲) ګونو مقررو په اړه راټول شوي نظرونه د (ملکي بورسونو تنظیمولو مقرره، د علمي کادرونو د حقوق او امتیازاتو مقرره) د املاکو د تبادلې په مقرره کې او د اکاډمیکو کارمندانو د معاشونو او امتیازاتو تنظیمولو په برخه کې ترتیب او ځای پر ځای شو.

۴۶. له فتحې وروسته د پلان، پالیسۍ او تقنین ریاست له خوا د لوړو زده کړو وزارت ملکي قانون د بیا کتنې پروسه پیل او د بیا کتنې په موخه کمېټې ته وسپارل شوه.

۴۷. د لوړو زده کړو وزارت (۱۴۰۱) مالي کال په تشکیل کې د (۱۱۶) کمیت په لرلو سره د عالي شورا په منظورۍ (۴) پوهنځي او (۲۲) ډیپارټمنټونه ایجاد شول.

۴۸. د (۱۴۰۱) مالي کال په تشکیل کې د افغان نړیوال پوهنتون د (طب، انجینرۍ،شرعیات او زراعت) په څلورو

پوهنځیو کې د (۱۹۳) بستونو په لرلو د ماسترۍ (۹) برنامې او د دوکتورا (۶) برنامې رامنځته شوې.



۴۹. د وزارت په مرکز او ولایتي واحدونو کې (۲۶۵) تنه کارکوونکي چې حضوري شتون یې نه درلوده منفك شول.

۵۰. د وزارت په مرکز او ولایتي تحصیلي بنسټونو کې د (۳۲۰) تنه کارکونکي ارزیابي شول او نومونه یې د سوانح په دفتر کې ثبت شول.

۵۱. له فتحې وروسته د (۱۴۰۰) مالي کال د مرکزي ریاستونو شپږ میاشتنی، کلنی او همدارنګه د جدي، دلوه، حوت، میاشتو راپورونه تحلیل، توحید او په پښتو او دري ژبو کې د چارو اداري سرپرست لوی ریاست سره په ټاکلي وخت کې شریك شول.

۵۲. له فتحې وروسته د (۱۴۰۱) مالي کال د مرکزي ریاستونو اړوند د حمل، ثور، جوزا او لومړۍ ربعې راپورونه راټول، تحلیل، توحید او په پښتو او دري ژبو

کې د چارو اداري سرپرست لوی ریاست سره په تاکلي وخت کې شریك شول.



**۵۳.** له فتحې وروسته د دولتي او خصوصي تحصیلي بنسټونو (۲۴) ستراتیژیك پلانونه تر بیا کتلو وروسته نهایي شول.

**۵۴.** له فتحې وروسته د (۱۴۰۰) مالي کال د دولتي او خصوصي تحصیلي بنسټونو (۳۰) کلني راپورونه تر بیا کتلو وروسته نهایي شول.

**۵۵.** له فتحې وروسته د راپورونو وړاندې کولو او د ستراتیژیك پلانونو ترتیبولو په اړه د ترتیب شویو فارمتونو او لارښودونو پر بنسټ د مرکز او شرق په زون کې د پوهاوي (۲) ښوونیز ورکشاپونه دایر کړ چې د دې ورکشاپ په ترځ کې د (۱۷) دولتي



او (۸۵) خصوصي تحصيلي بنسټونو استازو ګډون کړی وو او ټولو بشپړ معلومات ترلاسه کړل.

۵۶. د کارموندنې او بیکارۍ کمولو په پار یوه ټولنیزه طرحه ترتیب شوې، د کار او ټولنیزو چارو وزارت ته استول شوې ده.

۵۷. د (۳۹) دولتي تحصيلي بنسټونو څخه د (۶۲۶۱) تنه استادانو، د ليسانس دورې د (۱۹۶۹۰۶) تنه محصلينو، د ماسترۍ دورې د (۲۶۲۱) تنه محصلينو، د دوکتورا دورې (۲۰) تنو محصلينو او همدارنګه د (۷۱۱۳) تنه خدماتي کارکوونکو احصائيه په منظمه توګه تر راټولولو وروسته په ترتيب شوي ډيتابس کې ثبت شوې ده.

۵۸. د (۱۴۰) خصوصي تحصيلي بنسټونو څخه د لس زره يو سلو نهه شپيته (۱۰۱۶۹) استادانو، د ليسانس دورې، د يو لکو يو پنځوس زره نهه سوه اته ديرش (۱۵۱۹۳۸) تنه محصلينو، د ماسترۍ دورې، يو زرو شپږ سوه او نهه اتيا د (۱۶۸۹) تنه محصلينو او همدارنګه د څلور زره دري سوه (۴۳۰۰) تنه خدماتي کارکوونکو احصائيه په منظمه توګه تر راټولولو وروسته په ترتيب شوي ډيتابس کې ثبت شوې ده.

۵۹. د ګوګل فورم له لارې د ټولو تحصيلي خصوصي بنسټونو بشپړ شهرت راټول او په ځانګړي ډيتابس کې ثبت شو.

۶۰. د (۴۲) خصوصي لوړو زده کړو بنسټونو پوهنځي و ارزول شول.

۶۱. د ژمي ژبې د مهارتونو د روزني پروګرامونه او د کمپيوټر د روزني کورسونه د کابل د ښوونې او روزني او د کابل مرکزي پوهنتون په همکارۍ ترسره شول.




۶۲. د (کابل پولي تخنيك پوهنتون، ننګرهار پوهنتون، جوزجان او کندز پوهنتون) دولتي تحصيلي بنسټونو کې ورزشي سيالۍ تر سره شوې.

۶۳. د ستاژ دورې لپاره بېلابېلو ادارو ته (۶۵) تنه معرفي شول.

۶۴. د نوښتګرو محصلينو د تشويق او ستاينې په موخه يو ځانګړی پروګرام په برياليتوب سره داير او تر سره شو.

۶۵. په دولتي تحصيلي بنسټونو کې د (۱۵) تحصيلي پروګرامونو او د فوق ليسانس (۱۱) تحصيلي پروګرامونو څارنه او ارزونه تر سره شوه.

۶۶. په خصوصي تحصيلي بنسټونو کې د دولتي تحصيلي بنسټونو د (۶) کلسترونو پلې کولو څخه څارنه او ارزونه وشوه.

۶۷. د بهرنیو سندونو ارزونې او معادلت ریاست له خوا د لیسانس، ماسترۍ او دوکتورا په کچه د (۴۳۴) تحصیلي سندونو او نیمګړو سندونو معادلت ارزیابي شوو او تر ارزیابي وروسته تائید او ثبت شول.

۶۸. له تحول وروسته د لوړو زده کړو وزارت په کچه د اکسس پواینټ (Access Point) سیستم په بشپړه توګه نصب او فعال کړ چې د انلاین انټرنیټ له لارې د ادارو ټول پرنټرونه سره وصل شول او د دې سیستم څخه په کار اخیستلو سره د وزارت په اداري چارو کې د پام وړ چټکتیا رامنځته شو.

۶۹. د لوړو زده کړو وزارت په کچه د سرور روم (Server Room) سیستم د ډیزاین او طرحې پروژه هم بشپړه شوه چې فعلاً په وزارت کې دننه شتون لري.

۷۰. لوړو زده کړو وزارت کې دننه د ډومین یوزر (Domain User) سیستم رامنځته شو چې په دې سیستم کې هر کارمند ته جلا اکاونټ (Account) ترتیب شوی تر څو د وصل شویو پرنټرونو کار کنټرول او مدیریت کړي.

۷۱. د (HEMIS) سیستم چې مخکې د امازون په سرور کې فعال وو او د امریکایي شرکتونو له خوا کنټرول کېده، د ا.ا.ا له فتحې وروسته یاد سیستم د معلوماتي ټکنالوژۍ تخنیکي ټیم په هڅو د وزارت په سرور کې هاسټ او بشپړ کنټرول یې

د لـوړو زده کـړو وزارت پـه واك کـې شـو، چـې د دې سیسـتم پـه فعـالولو سـره اوس د لـوړو زده کـړو وزارت کـولای شـي چـې د تحصـیلي بنسـټونو د آزمـوینې پروسـه لـه پیـل څخـه د دیپلـوم تـر توزیـع کولـو پـورې د ټولـو سمسـترونو او آزمـوینې اړونـد پړاوونـه په همدې سیستم کې ثبت او کنټرول کړي.

۷۲. د افغانســـتان تحقیقـــاتي او تحصـــیلي شـــبکې (AfgREN) آمریـت او د وزارت سـرور روم تـر مـنځ د نـوري فـایبر چـې لـه تیـر کـــال راپـــه دیخـــوا غیـــر فعـــال وو، الحمـــدلله د معلومـــاتي ټکنـالوژۍ ریاسـت د افغانسـتان تحقیقـاتي او تحصـیلي شـبکې (AfgREN) آمریـــت تخنیکـــي کارمنـــدانو وشـــوکولای چـــې یـــاد شوی لینك دوباره فعال کړي.

۷۳. د افغـان نړیـوال پوهنتـون داخلـي شـبکه یـا (Local Network) کـوم چـې د تیـر نظـام لـه طرفـه پـه بشـپړه توګـه تخریـب شـوی وو،الحمـدلله د معلومـاتي ټکنـالوژۍ ریاسـت پـه هڅـو دوبـاره فعـال او کـار اخسـتني تـه وسـپارل شـو او همدارنګـه ټـول پوهنتون ته کمپیوټر لب چمتو او فعال شو .

۷۴. د تیـر نظـام د وزارت اداري کـارکوونکو ټـول رسـمي ایمیلونـه (Google G-Suite) تـه انتقـال کـړي وو چـې د هغـې کنتـرول او اختیـار د نومـوړي شـرکت پـه لاس کـې وو. د اسـلامي امـارت د راتـګ سره سم بلاك او قطع شو نو هغه ټول ایمیلونـه د بیرتـه تـر لاسـه کولـو لپـاره (C-Panel) تـه انتقـال شـول. داچـې یـاد

سیستم زمونږ په اختیار کې واوسي پر همدې اساس مو د (C-Panel) لپاره رسمي جواز هم تر لاسه کړ.

۷۵. د لوړو زده کړو وزارت لپاره (155-MB)انټرنیټ او د افغانستان (۴۲) تحصیلي بنسټونو، د دیني جامعاتو او تخصصاتو، د عبدالله بن مسعود جامعه ریاستونو ته انټرنیټ وصل شو او همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت مرکزي ریاستونو او د دیني جامعاتو او تخصصاتو لوی ریاست لپاره معلوماتي (mi) سیستم ترتیب شو.

۷۶. د افغانستان(۲۷) دولتي پوهنتونو ته د ویب مېل سیستم چمتو شو.

۷۷. د ژباړې موضوع ثبتولو په پار د علمي کادرونو د (۱۰۰) پروپوزلونو دخیرلو او ثبتولو اړوند پړاوونه بشپړ او تر سره شول.

۷۸. د بست، هلمند ، التقوا او سلام لوړو زده کړو بنسټونو (۴) علمي تحقیقي او (۶) علمي ملي مجلې رامنځته شوې.

۷۹. د (۳۱۱) پروپوزلونو اړوند پړاوونه په بشپړه توګه تر سره شول.

۸۰. د پلټنې ریاست له خوا د یو پنځوس میلونه، دري سوه او نهه اویا لکه نهه سوه پنځه اویا افغانیو (۵۱۳۷۹۹۷۵) افغانیو له جملې څخه پنځلس میلونه، اته سوه نهه دیرش لکه دري سوه اته اتیا افغانۍ (۱۵۸۳۹۳۸۸) افغانۍ تصفیه شوې او د پاتې افغانیو د پلټنې او تصفیه کولو بهیر جریان لري.

۸۱. د لوړو زده کړو وزارت اړوند ټول دولتي او خصوصي تحصیلي بنسټونو کې غیر قانوني اجراآت او فعالیتونه په ګوته شول او د جعلي تحصیلي سندونو اجراء کولو څخه مخنیوی وشو.

۸۲. د لوړو زده کړو وزارت اړوند ټول دولتي توکي او وسایل د معتمدینو په جمع کې قید شول او له دولتي شتمنیو څخه په شخصي توګه د کارولو مخنیوی وشو.

۸۳. د پلټنې معیارونو سره سم د لوړو زده کړو وزارت د (۲) مرکزي ریاستونو، د (۱۹) دولتي او (۳۸) خصوصي تحصیلي بنسټونو پلټنه په بشپړه توګه تر سره شوه چې ترتیب شوی راپور یې د وزارت سرپرست مقام سره شریك شوی دی.

۸۴. د دولتي او خصوصي تحصیلي بنسټونو تر لاسه شوي نصابونه بررسي شوي او د اصلاح په موخه یې لازم اقدامات تر سره شوي دي.

۸۵. د تفتیش ریاست له خوا د (۱۲۵) تحصیلي بنسټونو خاص موضوعات بررسي شول.

۸۶. په دولتي پوهنتونونو (کابل، پولی تخنیك، کابل ښوونه او روزنه، د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون، هرات او ننګرهار) کې د ماسټرۍ (۱۵) برنامې ایجاد شوې.

۸۷. د (کاتب او سلام) په خصوصي پوهنتونونو کې (۳) د ماسټرۍ برنامې ایجاد شوې.

۸۸. د (۹) ماسترۍ برنامو اړوند پړاوونه بشپړ او نهايي شول.
۸۹. په کابل پوهنتون کې د حيواني علومو پوهنځي او د (څارويو نسل پالنه، د چرګانو نسل پالنه، د څارويو تغذيه، جنين او نسل پالنې) په برخه کې (۴) ډیپارټمنټونه رامنځته شول.
۹۰. د اسلامي امارت په نظام کې ټول را ټول شوي (۱۲۸۹) تحصيلي سندونه طی مراحل شوي دي .
۹۱. د ليسانس، ماسترۍ او دوکتورا په کچه د (۴۳۴) تحصيلي سندونو او نيمګړو سندونو معادلت ارزيابي او تائيد شوی دی.
۹۲. د خصوصي تحصيلي بنسټونو د (۱۴۰۱) مالي کال د فراغت او د پايلو سمستروار کتابونه لاتر اوسه دې ادارې ته رالېږل شوي نه دي. مګر د تيرو کلونو د سمستروار نتايجو (۲۰۳۶) کتابونه راټول او د فراغت (۱۰۳) کتابونه له نتايجو سره تطبيق شول.
۹۳. له بهرنيو بورسونو څخه فارغ شوي دولتي کارکوونکي چې هېواد ته راستانه شوي وو، اړوندو ادارو ته د دندې تر لاسه کولو لپاره معرفي شول.
۹۴. د ديني جامعاتو او تخصصاتو چارو لوی رياست کارکوونکو لپاره د ټريننګ ډيټابس ترتيب او وړاندې شو.
۹۵. د ځنډېدلو او نيمه کاره ( ميدان وردك، غزني، زابل، هلمند، کندهار، هرات او ننګرهار) زيربنايي کارونه تر سره شول.

۹۶. د عبدالله بن مسعود (رضی الله عنه) د دیني سندونو ارزونې ریاست اړوند تعمیر ترمیمولو لپاره د حفظ او مراقبت له بودیجې څخه (۲۴) میلیونه افغانۍ بودیجه تعیین شوه.

۹۷. د ا.ا.ا د ریاست الوزارء د حکم پر بنسټ د عبدالله بن مسعود (رضی الله عنه) د جامعې (۲) بلاکونه بیا ورغول شو.



۹۸. ملت ته د دیني جامعاتو او تخصصاتو او همدارنګه د دې ریاست تر اثر لاندې دنورو ریاستونو د کړنو اوفعالیتونو په هکله د پوهاوي او معلوماتو وړاندې کولو په موخه د اړوند ریاست د رهبرۍ غړو یو پلاوي د هېواد بېلابېلو زونونو ته سفر وکړ.

# د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر صاحب سفرونه او له بهرنیو اشخاصو سره ناستې

**افغانستان کې د سرپرست وزیر صاحب ناسته د ترکیې له سفیر سره:**



- د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني د ناستې په ترڅ کې د پوهنتونونو بیا پرانیستلو، د پخوانیو ستونزو حلولو او د لیلیو او نورو لګښتونو د اجراء کولو په هکله د ترکیې هېواد سرپرست سفیر سره معلومات شریک کړل او همدارنګه د کادري پوهنځیو رامنځته کولو، د کتابتونونو غني کولو او د ښځینه محصلینو د ټرانسپورټ په برخه کې ترینه د همکارۍ غوښتنه وکړه.
- د ترکیې هېواد سرپرست سفیر د یادو موضوعاتوڅخه خوښي څرګنده کړه او په هره برخه کې یې د همکارۍ ژمنه وکړه او تر څنګ یې له سرپرست وزیر صاحب څخه د ترکیې د معارف او د افغانستان د پوهنې وزارت ترمنځ په تفاهم لیك کې د ځینو ستونزو حلولو په برخه کې د همکارۍ غوښتنه وکړه.

- د ترکيې سرپرست سفير وويل، چې د تحصيلاتو اداري د انلاين زده کړو په هکله موافقه شوې ده او دا چې کوم پوهنتونونه، کوم پوهنځي او څومره محصلين په دې برخه کې شامیلیږي باید ژر تر ژره راوپيژندل شي، ترڅو د انلاين زده کړو چارې وخت سره سمې پيل شي او زيا ته يې کړه چې د ترکيي ژبې زده کړې چې په کومو پوهنتونونو کې په چټکۍ سره روانې دي د دې پوهنتونونو اړوند لګښتونه او د استادانو معاشونه يې اجراء شوي دي او همدارنګه په نورو پوهنتونونو کې د ترکې ژبې اړوند د ډيپارټمنونو رامنځته کولو او په انګليسي کتابونو د کتابتونونو غني کولو په هکله هم خبرې اترې وشوي.
- د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزير الحاج مولوي عبدالباقي حقاني د ناستې په ترڅ کې د ترکيې هېواد (YTB) د نړيوالو بورسونو د رياست معاون ته وويل، چې هيڅ کوم بهرنی هېواد نشي کولی چې په مستقيم ډول له کانکور څخه بريالي کانديدانو ته بورسونه ورکړي بلکه ټول بورسونه به د لوړو زده کړو وزارت له لوري طی مراحل کېږي، چې کوم هېواد ته په کومو برخو کې کوم کسان واستوي.
- د ترکيې هېواد (YTB) د نړيوالو بورسونو د رياست معاون وويل، چې زمونږ د هېواد د اصولو له مخې د بورسونو په توزيع کولو کې هيڅ بل هېواد ته د ټاکنې صلاحيت نه ورکول کېږي، خو له افغانستان هېواد سره زمونږ د ښو او نيکو اړيکو له کبله د دې امتياز ترڅنګ دا صلاحيت هم ورکوو، چې خپل کانديدان رامعرفي کړي.

**پاکستان هېواد ته د سرپرست وزیر صاحب سفر:**



- د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر پاکستان هېواد ته د سفر په ترڅ کې د پاکستان ولسمشر، د ښوونې او روزنې وزیر، د لوړو زده کړو مسؤلینو، د ملي نصاب ادارې، اداري مسؤلینو، د پوهنتونونو استازو، افغان محصلینو او افغانستان لپاره د پاکستان ځانګړي استازي صادق خان سره ناستې وکړې، چې د یاد سفر په ترڅ کې یې ښې لاسته راوړنې لکه: په تحصیلي برخه کې د دواړو هېوادونو تر منځ همکاري او د تل پاتې اړیکو ټینګول. د افغان محصلینو لپاره د ویزې د مودې او د بورسونو شمېر زیاتولو او په سرحدونو باندې د افغان محصلینو لپاره د تګ راتګ پر مهال د اسانتیاوو رامنځته کول. او همدارنګه په افغانستان کې د علامه اقبال پوهنتون د ځانګړې پرانیستل، چې دا ځانګه به افغان محصلینو ته په دریو برخو کې حضوري او انلاین زده کړیز خدمتونه وړاندې کوي، خبرې اترې وکړې، چې په ټوله کې د پاکستان هېواد له خوا د افغانستان د تحصیلي بنستونو د پرمختګ په برخه کې د هر ډول همکارۍ او مرستې ژمنه وشوه.

**د چاپان هېواد سفیر سره د سرپرست وزیر صاحب ناسته:**



- د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني د جاپان هېواد له سفیر سره له فتحې وروسته ځینې اړین موضوعات لکه: د ټولو دولتي مامورینو او استادانو درې میاشتني معاشونو اجراء کول، عمومي عفوه اعلانول، د ټول هېواد ځاني او مالي شتمنیو خوندي ساتل، په ټول هېواد کې د امن او ثبات راوستلو په هکله معلومات شریك کړل.
- د جاپان سفیر د دې موضوعاتو ستاینه وکړه او تر څنګ یې د بیان آزادي، د ښځینه ښوونځیو پرانیستل، د اداري فساد له منځه وړل او د ټول شموله حکومت رامنځته کولو په اړه خبرې اترې وکړې او زیاته یې کړه، که چېرې یاد موضوعات پلي شي نو سربېره پر دې چې جاپان هېواد به په هره برخه کې مرسته وکړي نړیواله ټولنه به هم د همکارۍ او مرستې په موخه رامخته شي.
- سرپرست سرپرست وزیر صاحب د جاپان هېواد د سفیر د وړاندیزونو په ځواب کې وویل، چې د ا.ا.ا حکومت ټول شموله دی؛ خو ستونزه

دا ده چې د بهرنیو رسنیو له خوا په نا سمه توګه تعریف شوی دی حال دا چې د هر قوم او قشــر خلك پکې شــتون او ونډه لري او زیاته یې کړه، چې د ا. ا. ا د رســمیت پېژندنې په تړاومو ټول شـرایط پوره کړې دي، خو له بده مرغه امریکا د اصــولو له مخې نه بلکه د زور له لارې خنډونه رامنځته کوي، چې دا ډول کړنې له افغانســـتان پرته د نورو هېوادونو په ګټه هم نه دي.

په پای کې سـرپرسـت وزیر صـاحب د جاپان هېواد سـفیر ته د بیا راتلو بلنه ورکړه او مقابل لوري هم د بیا راتلو ژمنه وکړه.

**قطر هېواد د معاون او سفیر سره د سرپرست وزیر صاحب لیدنه:**



- د لــوړو زده کــړو وزارت سرپرست وزیر الــحــاج مــولــوي عبدالباقي حقاني د قطر هېواد له معاون او ســفیر ســره د ناســتې په ترڅ کې د قطر هېواد له نیکو اړیکو او همکاریو څخه ســتاینه وکړه. او د دې تر څنګ یې د تحصــیلي بنســټونو په برخه کې د ښــه والي او پرمختګ لپاره د همکارۍ غوښــتنه وکړه. د قطر هېواد معاون او ســفیر په دې برخو کې ژمنه وکړه، چې ستاسو د اړتیاوو لیست به له مشـرانو سـره شریك کړو او په تعقیبولو کې به یې پوره پوره همکاري وکړو.

**ازبکستان هېواد ته د لوړو زده کړو سرپرست وزیر صاحب چارواکو سفر:**



- ازبکستان ته د ا.ا.ا د لوړ پوړي پلاوي سفر وشو او د یاد هېواد د منځنیو او لوړو زده کړو له وزیر سره د ا.ا.ا د لوړو زده کړو سرپرست وزیر او ورسره ټیم لیدنه وشوه.
- د ازبکستان د لوړو او منځنیو مسلکي زده کړو له وزیرعبدالقادر تاشکلوف سره د ناستې په ترځ کې په دوه اړخیزو تحصیلي مرستو سربېره د ازبکستان په پوهنتونونو کې د افغان محصلانو په ستونزو خبرې اترې وشوې او افغان پلاوي ته په دې برخه کې د هر ډول اسانتیاوو برابرولو او همکارۍ کولو په هکله ډاډ ورکړل شو. دوی زیاته کړه، چې هغه افغان محصلین چې په (ترمذ) علمي مرکز او نورو ازبک پوهنتونونو کې په ځانګړي تخفیف سره د اسلامي امارت په لګښت زده کړې کوي، د مالیې وزارت تر سیستم فعالولو پورې له فیس او لګښت پرته به خپلو زده کړو ته پرته له کوم خنډ څخه دوام ورکړي.

**افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو ځانګړي استازي سره د سرپرست وزیر صاحب ناسته:**

- د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني د سره صلیب ځانګړي استازي (ریچارډ) سره ناسته وکړه چې د دې اړینې ناستې په ترڅ کې سرپرست وزیر صاحب ریچارډ ته د افغاني ټولنې او تحصیلي برخو په اړه اغیزمن معلومات وړاندې کړل.
- (ریچارډ) غوښتل یو ښه راپور د افغانستان په اړه جوړ کړي، نو د وزیر صاحب له خوا ورسره د لاندې موضوعاتو په هکله لکه: د بودیجې کمښت، د پیسو کنګلېدل او همدارنګه د لوړو زده کړو تحصیلي بنسټونو پیلول، د غیر مختلط تحصیلي نظام چمتو کول، له تحصیلي بهیر څخه د محصلینو خوښي او رضایت ترلاسه کول او همدارنګه ښځینه او نارینه محصلینو لپاره د لوړو زده کړو تر لاسه کولو لپاره د زمینې چمتو کولو په اړه اړین موضوعات شریک شول او زیاته یې کړه، چې مونږ د ښوونځیو په پیلولو کې مخالفت نه لرو بلکه د ځینو امکاناتو نه لرلو له کبله له مالي ستونزو سره مخ یو، چې په دې برخه کې د مرستې او همارۍ غوښتونکي یو.

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له سیاسي مر ستیالۍ (میته نیډ سن) سره د سرپر ست وزیر صاحب لیدنه:**

- د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني د ملګرو ملتونو له سیاسي مرستیالۍ (میته نیډسن) سره د لیدنې په ترڅ کې د ښځینه زده کړو پیلولو په برخه کې ځینې اړینې ستونزې لکه: د ښځینه محصلینو لپاره د ټرانسپورټ چمتو کولو، د اختلاط له منځه وړلو او ښځینه استادانو ګومارلو په برخه کې د همکارۍ غوښتنه وکړه. د ملګرو ملتونو سیا سي مر ستیالۍ (میته نیډ سن) په دې برخه کې ژمنه وکړه، چې یادې ستونزې به له نړیوالو سره د همکارۍ تر لاسه کولو په موخه شریکې کړي.

**د سره صلیب ځانګړي استازي (رایټهو) سره د سرپرست وزیر صاحب لیدنه:**



- د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني د سره صلیب ځانګړي استازي (رایټهو)سره ناسته وکړه، چې د دې ناستې په ترڅ کې د

سره صلیب استازي له خوا د تفاهم نامې د تمدید په هکله ډاډ ورکړل شو. د یادونې وړ ده چې یاده تفاهمنامه د شپېته میلیونه ډالرو په ارزښت د روغتیا او لوړو زده کړو وزارت په برخه کې لاسلیك کېږي.

- د سره صلیب استازي د تدریسي روغتونونو غني کولو او د روغتیا پالانو د روزنې په برخه کې د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه.

**د المان ستراتیژیک پراختیایی کمپنۍ مسؤل سره د سرپرست وزیر صاحب لیدنه :**



- لوړو زده کړو سرپرست وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني د المان ستراتیژیکې پراختیایي کمپنۍ د آسیایي څانگې مسؤلینو سره وکتل.
- دغه ناسته چې د لوړو زده کړو وزارت په مقام کې تر سره شوه، د یادې کمپنۍ مسؤلینو له لوړو زده کړو وزارت سره په مختلفو برخو کې د همکارۍ تیاری وښود. د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د آلمان له همکارۍ څخه مننه وکړه او ویې ویل چې دغه وزارت اوږدمهاله او

لنډمهاله مرستو ته اړتیا لري، نومورې زیاته کړه، چې د ځینو پوهنتونونو د ساختماني پروژو تکمیلول، د کابل پوهنتون معیاري کول او د پوهنتونونو د انټرنیټي سیستمونو ځواکمنتیا زموږ له لومړیتوبونو او عاجلو اړتیاوو څخه دي.

- د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر د خپلو خبرو په دوام کې وویل، چې او سمهال خصوصي پوهنتونونه د محصلانو پر مخ خلاص دي او د دولتي پوهنتونونو د بندېدو دلیل اقتصادي ستونزې دي.



